
# ځرنګه کولی شئ د خوندیتوب د جاکټ اندازه درسره برابره وي

## د خوندیتوب د جاکټ لیبل د د مناسب وزن یا د خپلې سینې د اندازې لپاره وګورئ.




د خوندیتوب د جاکټ لیبل به د مطلوب کاروونکي اندازه او وزن درته په ګوته کړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې اغوستونکی په دغو حدودو کې وي. تایید کړئ چې د خوندیتوب د جاکټ په لیبل لیکل شوي وي چې یاد جاکټ د "ساحلي خوندیتوب لپاره تصویب شوی دی."

## د خوندیتوب جاکټ واغوندئ.




د اغوستلو پرمهال د خوندیتوب جاکټ وګورئ که کومه ستونزه ولري یا شکېدلی وي. د خرابۍ اړوند په د پام وړ نښو کې شیکېدنې او یا ورک شوي یا مات شوي تړونکي یا پټۍ شامل دي.

## ټولې پټې یې د تړونکو په ځایو کې سره وتړئ او کلکې یې کړئ یا یې ټول ځنځیرونه وتړئ.




ډاډ ترلاسه کړئ چې ټولې پټۍ یې د تړونکې له مخې تړل کیږي او ټول ځنځیرونه یې بندیږي.
مهربانیوکړئ د خپټې د برخې د پټۍ تړل یې مه هېروئ که چېرې کومه یوه شتون ولري.

## اغوستونکی دې خپل لاسونه د سر تر ناحیې پورې پورته کړي او تاسو یې په ورو ډول د خوندیتوب د جاکټ د پورتنۍ برخې په پورته کش کولو سره لږ اندازه پورته کړئ.




که چېرې جاکټ د دوی تر غوږونو پورې پورته لاړ شي، ښکاري چې هغه لهاغوستونکي ډېر لوی دی. که چېرې یې پټۍ یا ځنځیرونهتړلي نه وي، ښکاري چې جاکټ ډېر کوچنی دی.



